مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پروفیسورعبدالخالق رشید
د ننګرهارپوهنتون استاد

۲۰۲۰/۱۱/۲۵

# دعلامه رشاد د پنځلسم تلین په درشل کې

## د رشاد پوهني کلنی لکچر



بسی دور بـایـد که چـرخ ظفر
بیا رد کسی چون تو بار دیگر

## پښتو لیکدود

په دي ورځو کي دځوان پوه روهیال صاحب له خوا یوښه پیغام  زموږ ترادرس پورې راورسید چي ګواکي په کندهارپوهنتون کي یو نوښتي  سیمینار پرپښتو لیک او لیکدود باندې جوړیږي ، زه هم ورته خوشاله شوم چي که داسي یو کار چي نن سبا د پښتو ژبې د خورو  ورو لکبنو مخنیوي وکړي او هرڅوک په یوه بڼه اویو ډول  دخپلي ژبې په اړه په یوه علمي تګلوري باندې خپله لاره ورمخه کړي ، دا به ددغي ژبې له شته والي او پایښت سره په اوسمهال اوراتلونکي کې  لویه مرسته وي .په دغه اړه ما تیرکال یوڅه یادونه اووړاندیزونه  د استاد علامه رشاد د تلین د کلني لکچر چي د استاد له تلین سره په یوه مهال کي برابریدل لیکلي ول، خوخپاره نه شول،  په دي خاطر چي علامه رشاد په خپل وخت کي له دغي موضوع سره ځانګړې لیوالتیادرلوده او یوشمیرلیکني یې په دغه برخه کې موږ ته اوس هم د لاربنود حیثیت لري ، دغه لیکنه هم دلوی لیکوال علامه  رشاد د څوارلسم تلین د کلني لکچر په پلمه له ګرانو دوستانو سره شریک کوم .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

## ژبه او لیک، یا لیک او ژبه:

نن سبا ژبه هم لکه د ژوند دنورو پدیدو په شان په خورا چټکتیا سره ځان دعصرله غوښتنو او پرمختګونو سره له یوې خوا عیاروي اوله بلې خوا هغه پرمختګونه او بدلونونه چې یا یې خپله غواړي او یا هم وربانديې تحمیل کیږي مني . په تیرو وختو کې دغه کار دسیاسي ، مذهبي او فرهنګی برلاسیو تر سیورو لاندې ترسره کیده خو په اوسني عصرکې چې تکنالوژۍ هرڅه ته ځان ور ورساوه ، د ژوند هره خوايي ترخپل جادویي سیوري لاندې راوسته ، دغه حالت هم پرژبه او هم دهغې پراړوندو توکونو باندې ژوره اغیزه وکړه،هماغه عملیه په یوه بل ډول سره چې د زوراو زیاتي پوښتنه په کې ظاهرآ نه رامنځ ته کیږي بلکه یو پرمختګ او یو مثبت حرکت بلل کیږي پرژبواودهغوی پرجوړښتونو باندې عملي کیږي ، ځکه خو اوس په نړۍ کې داسې ژبه نه لیدله کیږي چې ځان به له دغو تحولاتوڅخه په هراړخیزډول لرې وساتي .
همداده لکه چې بدلون منل یې حمتي شول ، نو سمول اوعیارول هم له دغه اصل سره په یوه وخت کې یوه انکارنه کیدونکې اړتیا ده . نن سبا دنړې په پرمخ تللو هیوادو کې نور یو زده کونکي ددې لپاره وخت نه لري چې هرڅه باید لکه توتي دیوچا له خولې یوازې واوري اوټول عمرباید یوازې یوه کس اودهغه ړنګو بنګووینوته لاس ترزنه ناست وي .کیدای شي ځوک دا ومني یا نه، خوکه یو زده کونکي په ربښتیا هم داوسنیو شونتیاوو په نظرکې نیولو سره د ژب زده کړې لپاره ملاوتړي ،کولای شی په شپږو میاشتواویاڅلورو کې په هغه ژبه کې په عادي توګه خبرې وکړي او هغه د خپلې اړتیاپه کچه زده اووکاروي . زه دا خبره دهغې تجربې له مخې دلته کوم چې ما خپله دخپل ژبني تدریس په ترڅ کې په خپله محسوسه او عملي کړې ده. په هرډول زه غووایم چې ژبه تغیرمنونکي پدیده ده، څومره چې ژوند تغیرمنونکي دی ،څومره چې په چټکۍ سره مخ په وړاندې ځي ، له هغه سره ترهرڅه اوترټولو نږدې ملګرې ژبه ده چې په موازې او برابره توګه باید ځان ورسره مل اوبدل کړي، ځکه خو ژوند او ژبه دواړه له یوه بل سره دومره نژدې دي چې کیدای شي په زیاترو ژبوکې د ژوند او ژبې د وینګ پیل هم په ورته او مشابه الفبا سره ووینو. (*)

---

(* ) له ما سره دا لاندې ژبې په دغه اړه دم ګړۍ په حافظه کې وې چې دلته یې په لنډه توګه اشاره ورته کوم :

ژوند - ژبــه {ژ} ( پښتو )
زندگی - زبان - زند {ز} ( فارسی )
زندگی - زبان {ز} (اردو )

## ژبه او لیک دود:

سره له دې چې زه د ژبې او ژبنیو څیړنو په برخه کې ځان د حافظ غونډاری بولم ، په دې ما نا چې یوازې د اړتیا په وخت کې کله ناکله ورمخه کوم ، لکه چې نن هم دلته په دغه برخه کې خپل نظر له تاسو ګرانو لوستونکو سره رشاد پوهنې ته ددرناوي په پارچې دغه موضوع له علامه رشاد سره هم د یوې مهمې علمي موضوع په توګه مطرح وه شریکوم .
زه دژبې اولیک په اړه لکه نورنړیوال ژبپوهان په دې اندیم چې لیک د ژبې انځور دي،داچې دا انځور په ښه شان ایستل کیږي اویا بد دا به د ژب ویونکي اوانځورګرکمال وي چې سړی کولای شي پرهغه باندې دهغه د کمال په رڼاکې خبرې وکړي . کله چې انځورګریا لیکونکي هغه ته یومهال داسې ښه ورکړې چې دهغو ښه لکه میخ داسې وه ، نو بیایي ( میخي لیک دود ) نومولي دی ، کله یې چې لږ نور بدلون ورکړی بیا یې لاتیني ښه ورکړې،همداسې یې د زما ن په تیریدوسره هندي ، آریاني ، عربي او نورو لیکدودیزشکلونه ورته تراشلي ، په هغوکې یې انځورکړې اوبیا یې هغه ته د ټولنیز تړون (قرارداد)له مخې د لیکدودنوم او ښه ورکړې دي.اوس موږ کولای شو په دغه ترڅ کې درې څیزه ، ژبه (Language ) ، لیکدود (Script ) او ویونکي (Reader) له یوه بل سره په یو ه لړ کې په پام کې ونیسو. ژبه رغیزه ، ذهني او بیالوژیکي پدیده ده ، لیکدود یې لیکني او قراردادي(Contractive ) انځوردی ، ویونکی یاعامل (Operator ) یې انسان دی . زما په نظر په دغو درې واړو توکونو کې یوازې (ژبه ) پرځای او ثابته پدیده یا دکار موضوع ده . خو دا دوه نورتوکونه چې لیکدود او ویونکي دي ،دوی ته باید دثابتو اومطلقو پدیدو په سترګه ونه کتل شي بلکې تل یې باید د تغیرمنونکو پدیدویاتوکو په ښه په پام کې و نیسوځکه چې کیدای شي دا دواړه هم بدلون وومومي او هم بدلون ورکړای شي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دليکدود بدلون د ژبې د ودې نښه

لکه چې ياده مو کړه چې،ژبه له ژوند سره په برابره او موازي توګه وده کوي ، خو له بده مرغه چې موږ نه ورته متوجه کيږو اويا په منلي پښتو خبره چې « سرمو نه وربانديږ خلاصيژي » اوکه نه خبره روښانه ده ، ځکه ژبه نن سبا دومره پرمخ تللي چې يوه بشپړه پوهه ( ژبپوهنه ) وربانديږ اخته ده چې ځان يې له فزيک او اتومي څېړنواو نورو علوموسره په يوه کتار کې درولي دی .خو ځينو ټولنو اوځينو خلکو دهمدغه لوی علم نوميالي په خپلو ټولنو کې دخپلو ژورو څېړنواومطالعاتو اودحقايقو دبيانولو پرلامل د ړندو سياستوالو په اشارو له خلکو پريوه خواساتلي دي،يايې هم په نورو نورو نومونو او ښکيلونوکې را ايسارکړي او يايې له جدي پاملرنې پريوه خوا ساتلي دي. په امريکا کې يو ليوني ماليخوليايی سياستوال هرڅوک پيژني خو چامسکي ته دډيرو لږو خلکو پام دی ، دا زموږ پښتو لنډه ګنډه درواخله ، دهرچا لپا ره دهرډول بی منطقه ويلو ستايوال شته ، خو ديوه زيار اويوه پالوال اويوه سيال له درد او دوکه خبره اوعلمي طرحې لاهم ترهيڅ ځايه ونه رسيدې . نه څوک پرې خبرشول اونه يې دتحليل او تشريح لپاره دمطلقې نا پوهۍ په وجه له يوشميرسره زغم شته .ځکه چې دوي پريوه ډيره مهمه باريکه لار، په يو ه علمي تګلوري ګام اوچت کړي چې تراوسه يې د منښت اوپيژند لپاره عيني استعدادهم د را تګ لارې څاري . په هرډول دايوه ضمني يادونه وه چې بايد ځيرک او موشګاف ياران هغوی چې د ژبپوهنې په برخه کې کارکوي ورته ځيروي.

راځو ليکدود ته ، په دغه اړه ترهرڅه دمخه ددغې خبرې يادول اړين دي چې په نړۍ کې يو زيات شمير ژبې داسې دي چې دوی د ليکدود له سختې ستونزې سره مخامخ دي ځکه چې ځينې ليکدودونه په زياترو وختو کې پر يوشميرژبو باندې دبيلابيلوعواملوله مخې په زورتپل شوی دی ، سره له دې چې دا دومره ستونزمنه موضوع نه ده ، خو په يوشميرټولنوکې له دغې موضوع څخه په لوی لاس دعلمي موضوع پرځای کله کلتوري ، کله مذهبي او کله هم استعماري اړاو لانجه جوړه شوې ده چې په پايله کې همدغو دری واړو بنديزونود ژبود ليکدودنودبدلون مخه هم نيولې ده . زياتره شرقی ژبې تراوسه پورې دليکدود له ستونزو سره لاس اوګريوان دي ، تراوسه پورې ددغو ژبو ليکدودونه ددغو ژبو له ژبني جوړښت سره ځان نه شي عياروولای ، په ځينو ځايوکې خوخبره په يوه استعماري برلاسی ماتم باندې بدله شوې ده . پښتو او فارسي وګورئ ، که سم ورته ځيرشو د همدغه نيمګړي ليکدود له امله د دغو ژبو په ليکني جوړښت د ژبنيو غږونو نښې او څيرې له سره نه ليدل کيږي . دهرې ژبې په وينګ کې اوليک کې واولونه او کانسوننټونه دهغې ژبې شمزۍ جوړوي،ژبه همدغه توکې په پښو دروي او ځانګړی شته والي ته يې حق اوحقيقت ور په برخه کوې . خو له بده مرغه چې موږ تراوسه په خپلو ژبو کې له داسې تعامل سره مخامخ يو چې د لوی سرې کمس ماشوم او د ماشوم کميس لوی سرې ته وراغوندو، داځکه چې موږ دخپلو ژبو له جوړښت اوطبعيت څخه خلاف هغوی ته دبيان اوښود داسې نښې اونښاني جوړې کړې اويامو دنورو په تقليد وربانديې تپلې دي چې نه سمې ليکل کيدای شي اونه هم سمې لوستل کيدای . يوازې په پښتو کې څلور بيلابيل او بيل مانا ويې بايد موږ له ناچارۍ په يوه بڼه وليکو لکه ( لور( lur ) ، لور(lor) ، لور(lawar) او لور (lor) اوپه سلګونو دا ډول نور چې بله چاره نه لرو . موږ لږ ترلږه ددې جرات والا هم نه شو چې له اروپايی ژبو سره پر يوه لور او ورته والي سره ګام اوچت کړو .ان چې ومونه شوای کولای له هندي هغو سره په يوه سمت حرکت وکړو. ځکه خو لکه سحراو جادو وهلي موجودات له خپل دغه ناروغ ليک دود سره د ودې او پرمختګ پرلور د ګامونو پورته کولو او حرکت پرځای رغړو .

موږ په دې باورلرو چې ليکدود په نړيواله کچه په نوې ژبپوهنه کې يوه نړيواله ستونزه ده ، خوداهم بايد ومنو چې نن سبا زياترو ملتواوخلکو ددغې ستونزې دلرې کيدو په برخه کې يولړرغنده ګامونه هم پورته کړي دي ، خوله بده مرغه چې موږ په دغه برخه کې تراوسه پورې هيڅ هم نه دي کړي ، کيدای شي دغه سيمينار لومړنۍ هڅه وي چې د پښتو او دری ليکدود په اړه په تيره يوه پيړۍ کې دلومړي ځل له پاره په تاريخي کندهارکې جوړيږي. داچې په عملي توګه به هم څه ترې راووځي اوکه نه دابه بيا يا په پخوانيو نيمګړتياوو سترګې پټول وي او يا به هم ديوه بدلون اوهڅون نښه وي چې په دغه ترڅ کې به رامنځ ته کيږي . انفرادي هڅې به يوې خوا ته پريږدو،خو په ملي کچه هم زموږ د پوهانو داسې يوه ګډه علمي هڅه چې له يوې هراړخيزې او ملي پايلې سره مل وي په دغه برخه کې تراوسه نه ده شوې ،همداده چې دعيني کتنې او علمي ارزونې له مخې زموږ تراوسه نوي سلنه پښتو اوفارسی ويونکي په خپلو ژبو نه سم پوهيږي او نه يې هم سمه ليکلای شي . داځکه چې په دغه برخه کې موږ ديوه نظم او يوه تعليمي سستم کلک بنسټ تراوسه پورې نه دی ايښي ، تاسې ګورۍ چې پنځه نوي سلنه پښتو ليکونکي اوس هم ( ی ګانې ) په توپيرسره نه شي ليکلای ، ان چې يو شمير ليکوال ، ژور نالستان او شاعران تراوسه پردې نه دي توانيدلي چې دځان په وړاندې دغه ستونزه ( ی سمه ليکل ) چې ټول ټال نيم ساعت تمرين غواړي کيږدي او ټول عمر يې سمه وليکي . په همدې لړ کې تاسې په دغه اړه فکرکړی او يا پوهيږئ چې زموږ نامتو ليکوالو چې اويا کاله مخکې څه ليکلي اوس بيا دهغوی ليکنې بيا ليکنې ته اړتيا لري،دهرنامتو ليکوال ان د استاد الفت په ګډون ليکنې د ليکدود له مخې نورې په ګرانې سره په اوسني نرخ د لوستلو وړدي .ځکه چې دوی هم په خپلو ليکنو کې ليکدودي ستونزې ان په خپل مهال په پام کې نه دي نيولې او نه يې په فکرکې شوي دي، دوی نه د تخنيکي آسانتياووواو نه هم د پښتو ژبې د خوريدو په اړتيا باندې ،هغه هم په داسې بيړنۍ توګه ډيرلږ باورمن وو. ځکه چې دوی دغې ستونزې ته ديوې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

علمي ستونزې په توګه نه کتل او نه يې وړاند وينه کولای شوه. ما مخکې وويل چې د ليکدود ستونزه نړيواله ستونزه ده خو زيات ملتونه لکه موږ غونډې لاس ترزنه نه دي ورته ناست،په فارسي ژبه کې نن سبا يوازې تاجکستان وکولای شول چې نورديو جامع ليکدود ددرلودلو په برکت دغه ستونزه که څه هم يوه موده ورته درنه تمامه شوه خو نن اوسنی نسل په فارسي ليکنه کې ډيرد آرامۍ احساس کوي ، له يوه تا جيکی ژبپوهاند ( سيايف ) څخه زموږ پوښتنه داوه چې که خپل ليکدود بيرته عربي هغه ته راوړئ څه ستونزه به وې ، هغه په صادقانه توګه ويل چې موږ نه غواړو او نه دا زموږ د ژبې فارسی تاجيکی په ګټه دی، يوطلايي چانس موږ ته برابرشو بايد چې دا په آسانۍ سره له لاسه ورنه کړو ... ترکانو هم دا کار وکړ خپل ليکدود يې له نړيوال هغه سره په يوه تول کې واچاوه ، دوی هم اوس له هغې ستونزې سره لکه چې موږ يې تراوسه هم لرو نه دي مخامخ ، کرديانو له همدا اوسه ترخپلې خپلواکې دمخه دخپلې ژبې د ليکدود لپاره لاتين ليکدود اعلان کړی دی ، دوی همدا وايې چې دوی کولای شي دخپل ملي تشکل ترڅنګ دخپلې ژبې لپاره چې دم ګړی په عراق ، ايران ، ترکيه او نورو سيمو کې تيت اوپرک دي ديوه واحد ليکدود خبره د خپلې خپلواکۍ ترڅنګ له همدا اوسه جدي ونيسي. يو شمير ايرانيانو هم له عربي ليکدود سره خپل مخالفت څرګندکړی ، سره له دې چې دوی په يولړ سمونو باندې هم برلاسي شوې،خو بياهم دا خبره مني چې په علمي لحاظ عربی ليکدود د دغې ژبې دخونډې ساتنې لپاره يو بشپړ ليکدود نه دي او وړانديز يې دادې چې خپل ليکدود د اروپايي ژبو ليکدود ته ور واړوي .پرتګاليانو هم دخپلې پرتګالي ژبې لپاره چې له لاتيني امريکا بيا ترافريقا او اروپا پورې (۲۴۰ ) مليونه خلک ويونکي لری په ټوله نړې کې ديوه واحد ليکدود واحده بڼه په (۲۰۱۵ ) کال کې اعلان کړه او له اړوندو حکومتونو څخه يې رسمي غوښتنه وکړه چې ددغه کاردعملي کيدو لپاره مرسته وکړي او وړانديز شوي واحد ليکدود په خپلو هيوادو کې په واحده اوسمه شوې بڼې سره وکاروي . جاپانيانو خود اوسنې تکنالوژۍ له برکته نه يوازې چې يو بشپړ ليکدود يې جوړکړ، بلکه دومره وده يې ورکړې چې په خپلوليکنو کې يې دهرې ژبې د کليمې تشخيص هم په ډيره آسانۍ سره وکړای شو . په دې مانا چې ان په خپل ليکدود کې دوی کولای شي خپل لوستونکي ته وښيي چې کومې کليمې او کوم جوړښتونه دجاپاني ژبې اوکوم لغتونه اوجوړښتونه له نورو ژبو دوی ته راغلي او يايې منلي دي . دوی په دغه برخه کې له رنګونو څخه چې زه فکرکوم هغه په خپله د ژبنيو او ليکدودي نښومهم توکونه بلل کيږي کار اخلي،مانا داچې جاپانيانو د خپلې پرمخ تللې تکنالوژۍ په لوړتيا کې بياهم د خپلې ژبې پريوه مهمه برخه چې هغه ليکدود دی خپله جدي پاملرنه ساتلې ده.خواوس پوښتنه داده چې که موږ ته دجاپان دغه تجربه اووسايل راورسيږی اوزموږ پوهه هم دخپلې پشتوژبې په برخه کې په فارسی اوعربي باندې تړلې وي اودخپلې ژبې دکره وييونوپرځای پردې ويې کاروو، خدای خبرچې هلته به زموږ دليکدود اوليکنې اولغوي زيرمې خبره پرچا اوکومې ژبې په رنګ ځان له موږ پردې ښيي ... دزياتومعلوماتولپاره وګورئ ( Chritopeher Seeley The 20th century Japaness writing system ) :

## زموږ ليکدود ستونزې او وړانديزونه:

که موخوک په ګناه هم نيسي خپله خبره به کوو،هغه داچې موږ همدا اوس په پنځوس اوشپيتو مليونو پښتنو کې تر سل تنه زيات سم په پښتو املا اوانشا ليکونکي کسان نه لرو، لوی اوليوني سياستمداران به لرو ، لوی ډاکټران به لرو ، لوی شاعران به هم لرو ، لوی انجينران به هم لرو خوکله چې دژبې اوليک لوست خبره رامنځ ته کيږي دوی په کې دومره خوار اوغريب دي چې په خپله ليکنه کې د (ص ) او ( س ) په ليکلو اوکارونه کې لکه يو نوی خارجي زده کونکی له ستونزې سره مخامخ کيږي . څه بايد ووايو چې ولې له داسې ستونزې سره موږ مخامخ يو ؟ په دغه اړه مهمه خبره داده چې موږ بايد ترهرڅه دمخه دخپل ښوونيز سستم په برخه کې په يوه انتقادي نظربيا کتنه وکړو چې له بده مرغه په تيره يوه پيړۍ کې موږ دغې ستونزې ته په شعوري توګه نه يو متوجه شوي . په هرډول راځئ يولړهغو ستونزوته يوه انتقادي کتنه وکړو هغه چې ديوه بشپړ اوبسيا ليک اوليکدود په برخه کې موږ ورسره مخامخ يو لکه :

۱ ـ زموږ دښوونځي زده کونکي چې کله په لومړي ټولګي کې په درس پيل کوي، دځينويې هغه الفبا په ذهن کې وي هغه چې ملا او چړي ورښودلي اويايي هم دبغدادي سپارې په پاڼوکې زده کړې وي . کله چې ټولګی ته هم راځي هغه ته يو مسلکي ښوونکي چې خپله يې هم پر يوې علمي تګلارې (کريکولم ) برابردرس ويلی وي درس نه ورښيي ، کله چې معلم په ټولګي کې په لومړۍ ورځ د تختې پرمخ يو لغت دبيلګې په توګه ( ټولګی ) ، (ښوونځی ) ، ( آزادی ) ، ( ډوډی) ، (لرګی ) او نور په يوه (ی ) او يوه بڼه ليکي ، څرګنده ده چې د ژبې د زده کړې دغه کوږ بنسټ به تر لوړو پورې همداسې کوږ لوړيږي . ديوې ژبې د ليکدود په برخه کې ترهرڅه مهم او د پاملرنې وړتکي په ټولو پرمختللو ټولنوکې دادی چې زده کوونکي بايد په همدغه پيل کې د الفبا د زده کړې له يوه بشپړسستم سره بلد کړل شي . خو زموږ بيا دغې ستونزې ته په همدغه پيل کې ملا ماته ده اويو ماشوم چې نوی د زده کړې په هيله قلم او کاغذ په لاس کې نيسي موږ نه شو کولای په همدغه پيل کې د سم ليک اوسمې ليکنې په لور له يوې تنظيم شوې علمي او تعليمي ميتودلوژۍ سره سم لارښوونه کړو ،ځکه چې موږ په دغه ټکي ځان غره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

کوو چې ګواکي موږ په ژبه پوهیږو، په داسې حال چې دا پوهیدل نه دي دا یوازې غږیدل دي. چې له ژب پوهیدو سره په هراړخیزه توګه توپیرلري .

۲ ـ بله ستونزه چې په نړۍ کې اوس دژبپوهانو له نظره  هغه هم دیوه ملي کریکولم په ترڅ کې  باید سمه شي  داده چې موږ  په افغانستان کې په منځني او ثانوي  دورو ښوونیزسستم کې د بیلابیلو مضمونود تدریس په ترڅ کې د ژبې موضوع ته ډیرفرعي اهمیت ورکوو او یایې هم ګرد سره له نظره غورځوو ، په دې مانا چې زده کونکي او ښوونکي مخکې تر دې چې د خپل مضمون د ژبې لیکدود ته ځیرشي، هغوی د مضمون په فکرکې کیږي ، داچې هغه په څه ډول تشریح او په څه ډول لیکل کیږي ، په دغه برخه کې له ژبې څخه یوازې د لیکنې په موخه هغه هم د آزموینې لپاره کاراخلي اوبس ،د بیلګي په توګه  د فزیک یوزده کونکي او استاد په  دغه عبارت کې چې ( په اتومي نړۍ کې دعلمي څیړنو د پرله پسې څارنې اصل ډیرمهم دی )  د بیلابیلو  یا ګانو راوړل او کارول او یاهم ګرامري جوړښت په پام کې نه نیسی اویاداچې پرې پوهیږي نه ، په داسې حال کې چې د داسې جملې سم نه لیکل ( په اتومی نړی کی دعلمي څیړنو د پرله پسې څارنې اصل ډیرمهم دی) نن سبا د یوې ژبې په زده کړه ، پیژندنه او څیړنه کې لویه ستونزه رامنځ ته کوي  چې دغې او دغې ته ورته لویو او مهمو ستونزو دپښتو ژبې د مطلقې ودې او پرمختګ بهیر له لوی خنډ سره مخامخ کړی دي ځکه چې مسوولې موسسې او ارګانونه او یاهم هغوی چې په دغه برخه کار کوي د ژبې په وړاندې خپل ملي او مسلکي مسوولیت نه احساسوي او خبره په غیرعلمي توګه ترسر تیروي .

۳ ـ خپرني او نشراتي ارګانونه  چې په هرهیواد کې دهغه هیواد له ټاکلو قوانینو اواصولو سره په خپرونو او نشرولو باندې پیل کوي ، هغوی هم  دژبې اولیکدود په برخه کې ځانګړي مسوولیت لري . له بده مرغه چې د پښتو آثارو او خپرولو په برخه کې  په دغو ارګانو کې هیڅ ډول تګلاره ، منظم پروګرام اولارښود نه لیدل کیږي ، دوی ته چې هرڅوک  هرڅه ولیکي ، هغه خپروي  او نشروي ، دوی دخپلو نشراتو لپاره د ارزونې او وړتیا داسې تګلاره چې دهغه اثرمفهوم او ژبه په معیاري لحاظ په پام کې ونیسي نه لري ، دغه نشراتي موسسې چې آثار په واحده بڼه نه خپروي او نه یې په قصدي توګه په فکر کې دي، دوی باید خپلې دغې نیمګړتیا ته متوجه شي ، په داسې حال کې چې په نوره نړۍ کې نن سبا خپرنې ارګانو نه اومطبعي دخپل اعتباراو اعتماد په خاطر دیوه کره او واحد لیکدود په برخه کې ځانګړی تګلاره اولارښودي غړي اوکمیسیونونه او کارپوهان لري چې یواثرترچا پ دمخه پرلیکنیواصولواو بنسټونو برابر ټولنې ته له ادبي ارزونې وروسته وړاندې کوي . خو موږ له بده مرغه له دغه نعمت څخه تراوسه خبرهم نه یو په دغه برخه کې باید یوه یادونه وکړم او  هغه داچې زماداخبره دتش له نامه سرایله مطبوعاتي آزادۍ سره (لکه چې په افغانستان هرډول مطبوعاتی اصولواومعیارونوپرخلاف کې روانه ده ) په هیڅ ډول اړونده نه ده اونه باید ګران لوستونکي دغه ټکي داسې تعبیرکړي چې زه ګواکي د مطبوعاتي آزادۍ  پرخلاف څه وایم، نه، هغه او زما بحث له یوه بل سره هیڅ ډول تړاو نه لري .ځکه خو زه هیله من چې یو شمیر شعوري دوستان چې د چا پ اوخپرونو په برخه کې اوږده تجربه لري دیوه بیلګیز بنسټ په توګه له خپلو چاپخونو پښتو کتابونه له یوه منلي ادبی معیارسره سم چاڼ کړي اود صلاحیت لرونکوکتونکو له نظره پرته یې چاپ ته ونه سپاري.

۴ ـ  دیوشمیر پښتوویونکي یاران چې پښتو ته یوازې په دغه ټکي رامخه کوي چې ګواکي مورنۍ ژبه یې ده اوهغه په بیلابیلو وختو اوځایو کې دټاکلو غرضونو پرلامل دوسیلې په توګه کاروي،په دغه برخه کې مې مراد هغه کسان دي چې دوی په تیرودوولسیزوکې دیرغلګروموخو، مطبوعاتواو تبلیغاتو سره مله شول ، په دوی کې یوشمیرپه ډیره بې پروایي اوپه شعوري توګه د خپلې ژبې د علمي اوملي ودې  پر زیان تمام شول، دوی فکرکاوه چې دوی د ژبې اهل دي ، ان چې ځانونه یې دماهرانو او کارپوهانو په چوکاټ یوازې دخپلې ځاني ګټې په خاطرواچول ، په داسې حال کې چې په یوه ژبه لیکل اودهغې معرفي کول دیوه ملت امانت چې هغه باید وسیله نه  بلکه د یوه لوی هدف په توګه ورته مطرح وي . دغه ډله چې زه دتیرې دوولسیزو په ترځ کې د ژباړونکو او ژبنۍ ما فیا په سترګه ورته ګورم، په رښتیا هم چې په همدغه ما فیايي دنده بوخته ډله ده ، دوی په بې زړه سویه د پښتو ژبې  په مسخه او سپکاوي کې رغنده برخه واخیسته، دوی یوازې  لنډمدتي موخې او پروګرامونه ان تراوسه هم دیوشمیر شبکوپه اشارو پرمخ بیایی چې دهیڅ ډول ودې اوپرمختګ تمه نه شي ترې کیدای . په یاده شوې موده کې دغو یارانو له ځانو څخه پرته له دې چې د پښتو ژبې دیوه ساده کورس شهادتنامه ولري  پښتومسلکي فرهنګ پوهان ، پښتو مسلکي ژباړونکي ، پښتو مسلکي استادان ، پښتو مسلکي ژورنالستان ،نطاقان اونورله ځانو جوړ کړل . دیوچا به پلاراو نیکه دپښتوژبې لیکوال اوشاعران وو خوزامن یی نن سبا باید دهغه په براند باندې دنورو مسلکي او بې خانداني برانده پوهانو او استعدادونه خنډ نه شي ، دوی باید پردغه ټکي باندې ویاړمن نه وي چې  « هرمغل چې په سوات راشي شهزاده شي ». په تیرو دوو لسیزوکې پښتو ژبې ته دغو ژبنیو مافیایي کړیو څه په هیواد دننه او څه هم له هیواده دباندې لوی زیان رسولی دی. دوی نه سمه ژبه چا ته ښودلې ، نه یې سمه املا او لیکدود په خپلو لیکنو کې کارولی اونه یې د خپلې ژبې تقدس ته ترخپلې ځاني ګټې زیات ارزښت ورکړي دی . دغه یاران باید په دې پوه شي چې دوی که د استعمار او یرغل مطبوعاتي اوژورنالستکي چوپړیان هم دي بایددخپلې ژبې په برخه کې له احتیاط او زړه سوي څخه په تیره بیا د لیکدود په برخه کې کارواخلي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۵ ـ پښتو ژبې او ليکدود ته له لسګونو ستونزو سره يوځای يوه هم د (ی ) ګانو ستونزه وردغاړې شوې ده ، وګورئ موږ کله پنځه اوکله شپږ کم او زيات ځانګړي وينګونه په يو بڼه اويوه ګرافيم (ی ) سره ليکو. کيدای شي يوڅوک دا دليل ووايي چې نه داهره يوه (ی ) بيله بڼه لري او بيل وينګ لري ، سمه ده، داخبره سړی په ظاهري توګه قانع کولای شي ، خو کله چې يوڅه علمي تحليل ته هغه هم د ژبپوهينزو زده کړو په برخه کې ور ننوځو، په دغه ترڅ کې بيا له يو لړستونزو سره مخامخ کيږي، موږ نه يوازې (ی ) ليکو بلکي په څنګ کې يو بل پېټي هم پر( ی ) باندې ور زياتوو چې هغه ټکي ياهم همزه او ياهم نورې بڼې دي . په علمي لحاظ او دپوهانو د ليد له مخې زموږ او دنړئ يوشمير ژبو ته دغو بڼو يولړخو څه چې ډيرې ستونزې رامنځ ته کړې دي ، که چيرې ددغه هروينګ لپاره ځانګړي نښې په يوه بڼه غوره شي ، زه فکرکوم چې په دغه حال کې به موږ پريوه علمي بري ورمخه شوي وو . په داسې حال کې چې دم ګړئ دا يوه ستونزه ده او وړده چې بايد په دغه باره کې نه يوڅوک ، بلکې يوه کارپوه ډله (نه بې سنده ژبنئ ما فيايي ډله ) لاس په کارشي اوپښتوژبه او ليکدود له دغې ستونزې څخه که څه هم په ظاهري کتنه ګران کار ښکاري وژغوري . موږ بايد د نن دهوسايی په فکرکې نه شو بلکې دغې پخوانئ نيمګړتيا او پوښتنې ته بايد د راتکونکونسلونواو را تلونکو څيړنو په خاطرديوه مثبت حل په لټه کې شو.ځکه چې په نړيواله کچه نن سبا ژبپوهان په ژبوکې داډول ورته تورې د ژبو د ودې او ليکدود دبشپړتيالامل نه بولي . لکه :
(ي – ی – ئ –ئ - ې ) چې دا په خپل ذات کې يوتوری (فونيم ) نه دی بلکي دوه او دری فونيمونه مود يوه توري له پاره کارولي دي.
۶ ـ بله لويه ستونزه چې پښتوليکدود اود پښتود ودې اوسني بهير ته ور دغاړې شوې ده ، هغه دګړدود( لهجې ) ستونزه اوموضوع ده ، سمه ده چې دا يوه نړيواله موضوع ده ، يو ه علمي موضوع ده چې دعلمي څيړنو په برخه کې په زرګونو څيړنې او تحقيقات په دغه برخه کې شوي او لاهم روان دي ، ژبه بې لهجو نه وي ، ځکه چې په يوه ژبه کې هره لهجه ديولړعواملو، طبعی ، کلتوري ، سياسي او ان اقتصادي اړخونو او ځانګړنو لرونکې ده . ملتونه او حالات ديوې لهجې پر شمزئ باندې يوه معياري ژبه رامنځ ته کوي او هغه د خپل اند اوژوند د ويندويي او بولندويي ژبې په توګه کاروي . له ښه مرغه چې موږ په نژدې تيرو پنځو لسيزوکې په يوه نسبتآ منل شوي معيار سره مخ په وړاندې ولاړو خو له دې سره سره بياهم زموږ ژبپوهان هغه لهجوي ستونزې چې ورسره مخامخ يولاهم نه راسپړي او دحل يوه جامع لاره نه ورته پيداکوي ، يوشمير چې داکارکوي او په دغه برخه کې ديوې معياري ژبې رامنځ ته کول او دود ول غواړي هغوی را ته پيريان ښکاري او خبرې يې هم سحر او جادو، په داسې حال کې چې خبره داسې نه ده ، هغو غواړي ددغې ستونزلپاره ديوه علمي حل پرپوله باندې ودريږي ، موږ وينو چې يو شمير خو تر دغې پردې لاندې خپل عيبونه پټوي ، کيدای شي يوشمير په انفرادي توګه لکه چې دمخه مو ياده کړه داکار د ژبې بډايتوب پرلامل ترسره کړي خو پوښتنه داده چې دا کار که په هرلامل اوهره موخه وي انفرادي کاردی چې ديوه فرد هڅه په ډاګه کوي خو داکارديوې ډله ييزې هڅې په وړاندې دانفرادي وسيلې حثيت لري چې موږدغې انفرادي وسيله ته باد دهدف په سترګه ونه ګورو. بياهم وايم هرڅوک چې پښتووسيله کوي، هغې ته د يوه معيار او هدف په توګه کار نه کوي ، ديوې معياري پښتو په نيت قلم نه وررته چلوي، څرګنده ده چې ستونزې زياتيږي او ددغوستونزو ملامتيا به ډير زر زموږ د راتلونکو له خوا پرموږ را اوړي . موږ بايد لهجې دژبې په وړاندې د پياوړتيايی موادو او زيرموپه توګه وکاروو نه داچې په لوی لاس يې ديوه منل شوي معيار او معيارې ژبې په وړاندې لکه بت پرته له يوه عام منښته ودروو. باوردی چې دغې ستونزې دم ګړئ دپښتوژبې لاس او پښو ته په افغانستان او پښتونخواکې دواړو کې فولادي هتکړئ ور اچولې او ليکدود هم ورته ګنګ ولاړدی. زما په اند داستونزه هله حل کيدای شي چې موږټول ديوه معياري ليکدود چې په انفرادي هڅه باندې نه وي پيل شوی بلکه ديوه اکاډيمک ارګان اوصلاحيت لرونکو ژبپوهانواوادب پوهانو له خواجوړ وي علمي پلوي وکړو.
۷: د ليکدود کارپوهان، سمونکي او ان مسولان بايد دغه ټکي ته ځير وي چې ديوې ژبې ليکدود په دغه تخنيکي نړئ او ددغو پرمختګونو په چټک بهيرکې لکه زموږ کالي داسې زر زر زړيږي ، ښايي يوشميردوستانو ته زما دغه خبره آسمان په توپ ويشتل ښکاره شي ، خو زه اوس خپله په عملي ډګر کې له دغې ستونزې سره مخامخ يم . په دې مانا چې که موږ د خپلو نامتوليکوالو او شاعرانو ليکلي کتابونه خپلې مخې ته اچوو پوهيږو چې دهغوی ليکدود اوان ګرامري جوړښت داوس په پرتله څومره نيمګړتياوې او ستونزې لري ، د استاد الفت او استاد بينوا ، په پښتونخواکې د حمزه او نورو نوماليو آثار نور په داسې آثارو کې راځي چې موږ يې پرليکدوديزو ستونزو او نيمګرتياوو باندې له ورايه پوهيږو، زه په دې فکريم چې که يوه با صلاحيته کوميټه او دنظرخاونده خواخوږې ډله ديوه علمي او اکادميک ارګان له خوا ددغه مقصد لپاره چې بايد ددغو معاصرو کلاسيکانو آثار له اوسني ليکدود ، يا په بله وينا له اوسنئ املا او انشا سره برابرنه شي،د دوی آثار نور خپل هغه معنوي ارزښت چې په خپل وخت کې يې په هغه ليکدود اوهغه بڼه چې موږ بوډاګان پرې پوهيږو دنويوڅيړنواونوي پښت په وړاندې خپل ارزښت له پوښتنوسره مخامخ کوي . په دغه برخه کې يوه علمي فکر او يوه پراخ نظري تصميم ته اړتياده چې بايد واک لرونکي ياران او موسسې په دغه برخه کې لاس په کار شي . موږ پوهيږو چې زموږ دغو نخبه ګانو په خپل مهال کې دغه شونتياوې چې موږ يې لرو نه درلودې او ياداچې صادقانه بايد ووايو چې نه پرې پوهيدل . کوم څه چې له دوی څخه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مورږ ته پاتي دي ، که هغه مورږ د اوسني نسل په زده کونکي باندې په هم هغه اويا کلنه پخوانی بڼه او ليکدود لکه (چه ) او(چې) يا (کښې ) او (کې) ليکواويا لولو، مورږ ته په عملي توگه دا پته لگيږي چې ليکدود د جامو بڼه لري بايد ښوصورتونو اوسيرتونو ته له وخت او شونتياوو سره سم په ښکلي توگه ور واغوستل شي .
۸ ـ دليکدود په اړه ژبپوهانو ته وړانديزدی چې په ليکدود کې د غږونو(واولونو، اوغبرگغږونو )په ستونزه باندې کاروکړي اودغي لويې ستونزه ته دحل يوه داسي لاره ولټوي ، څو د دوی په مرسته اوهڅه مورږ دغې ستونزې ته وروستی حل په گوته کړو. زه چې کله پښتو په هندي ديونا گري ليک دود باندې ليکم ، باوروکړئ چې هلته زه په روښانه توگه خپله پښتو په خپل ټول ادبي درنښت سره ليدای، کتی اولوستی شم.
۹ ـ دليکدود بڼه اودپښتوژبې له پاره د يوه ليک دډول په نښه کول (نسخ ... نستعليق اويانور)
۱۰ – د پښتوژبې له پاره دمعياري ليکدواړتيا اووړتيا په هراړخيزه توگه د وړانديزوړده، په دې شرط چې دټولو پښتو ژبوهيوادو، سيمو، لهجو، خپرونو، پوهنتونو، ښوونځيو، آثارو، زده کونکو، ژبپوهانو، عادي خلکو ونډه، اوتاريخي رسالت استازيتوب په کې وشي .

درناوي
پروفيسور رشيد
د نهرو پوهنتون د ښتوڅانگي استاد


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ